# د زده کولو او ښودلو د

# حلقو جدول

## د قرآنِ کریم دري حقونه

10 اپریل 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه (3): فِکرِ مدينه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه-

پۀ ننو د زده کولو او ښودلو پۀ حلقو کښې به د قرآنِ کريم درې حقونه ښودلے شي او په سوزيدلې باندې لوستلے کيدونکې دُعا به يادولے شي- پۀ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اجتماعي جائزه هم اخستے کيږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** مسلمان چې تر څو پورې پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لولي، فرښتے پۀ هغۀ باندې رحمت ليږي، اوس د بنده خوښه ده چې کم لولي او که زيات-[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د قرآنِ کريم درې حقونه

الله پاک فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ (پاره:1، سورة البقره:121) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هُغه خلق چا ته چې مونږ کتاب ورکړے دے نو هغوئي د هغې تلاوت کوي څنګه چې د تلاوت کولو حق دے هُم دا خلق پۀ دې ايمان لري- |

پۀ حقيقت کښې پۀ قرآنِ کريم باندې ايمان راوړونکي هُغه خلق دي کوم چې د دې د تلاوت حق ادا کوي-[2]

---

1...ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة...الخ، باب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم، صفحه:152، حديث:907-

2...تفسير مدارک، پاره:1، سورة البقره، تحت الآيت:121، جلد:1، صفحه:126-

## خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دِين خير خواهي ده، عرض وکړے شو، يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د چا د پاره؟ اوئې فرمائيل: ✿ د الله پاک د پاره ✿ **د هغهٔ د کتاب (قرآنِ کريم) د پاره** ✿ د هغهٔ د رسول د پاره ✿ د مسلمانانو د امامانو د پاره ✿ او د عامو مسلمانانو د پاره۔ [1]

*مختصر شرح:* ✿ د الله پاک د پاره خير خواهي دا ده چې ✿ پهٔ الله پاک باندې ايمان راوړل ✿ د هغهٔ سره څوک شريک نهٔ ګرځول ✿ د هغهٔ تابعداري کول ✿ د نافرمانۍ نه بچ کيدل وغيره ✿ **د کتابُ الله د پاره خير خواهي دا ده چې ✿ د دهٔ تلاوت کول ✿ پهٔ دې کښې پهٔ ذِکر کړے شوو احکاماتو باندې عمل کول ✿ د دې تعظيم کول ✿ د دې احکامات زده کول وغيره** ✿ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د خير خواهۍ مطلب دا دے چې ✿ پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ايمان راوړل ✿ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي منل ✿ سُنَّت اختيارول ✿ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سيرت باندې عمل کول ✿ د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيت رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سره محبت کول وغيره۔ [2]

## د قرآنِ کريم درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د قرآنِ کريم پهٔ مونږ باندې ډير حقونه دي، پهٔ دې کښې به مونږه نن اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دريو حقونو د زده کولو سعادت حاصلوو۔

**وړومبے حق:** د قرآنِ کريم تلاوت کول

**وضاحت:** د قرآنِ کريم دا حق دے چې د قرآنِ کريم داسې تلاوت وکړے شي لکه څنګه چې د تلاوت کولو حق دے يعني د ترتيل سره ښه پهٔ ورو ورو، د تجويد د خيال ساتلو سره د

---

1...مسلم، کتاب الايمان، باب ان الدين النصيحة، صفحه:44، حديث:95۔

2...شرح مسلم، للنووی، کتاب الايمان باب بيان ان الدين النصيحة، جلد:1، جز:2، صفحه:45،46، حديث:96۔

قرآنِ کريم تلاوت کول- ياد ساتئ چې قرآنِ کريم داسې لوستل فرض دي چې يو حرف د بل حرف نه ممتاز (يعني **الف** او **ع**، **س** او **ص**، **ق** او **ک**، **ح** او **ه** وغيره د يو شان اوازونو والا حرفونه د يو بَل نه جدا) وي، حرکات (زبر، زير، پيش وغيره) صحيح ادا کړے شي او داسې د حرفونو او د حرکاتو د کمي او زياتي نه هم ځان بچ کول فرض دي، د کوم په وجه چې معنیٰ فاسد کيږي-[1] **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څوک چې په صحيح طريقه باندې قرآنِ کريم نشي لوستلے هغوئي له پکار دي چې په مدرسة الـمدينه بالغان کښې داخله واخلي او د صحيح تجويد او قراءَت سره قرآنِ کريم لوستل زده کړي** او د حقونو د خيال ساتلو سره د قرآنِ کريم تلاوت وکړي- امام اعظم ابو حنيفه رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: د قرآنِ کريم دا حق دے چې دا په کال کښې دوه ځل پوره ولوستلے شي-[2]

**د قرآنِ کريم د تلاوت فضيلتونه:** د قرآنِ کريم تلاوت افضل عبادت دے[3] ❁ د قرآنِ کريم په يو حرف لوستلو باندې د 10 نيکو ثواب ميلاؤيږي[4] ❁ د قرآنِ پاک په لوستلو سره رحمتونه نازليږي ❁ فرښتے په وزرو باندې سوري کوي ❁ سکينه نازليږي[5] ❁ د قيامت په ورځ باندې به قرآنِ پاک د خپل لوستونکو شفاعت کوي[6] ❁ قرآنِ کريم لوستلو والا د الله پاک خاص بنده دے-[7]

**دويم حق:** په قرآنِ کريم باندې عمل کول

---

1...فتاوی رضويه، جلد:6، صفحه:281، ملخصاً-

2...اتحاف السعادة المتقين، جلد:5، صفحه:32-

3...کنزالعمال، کتاب الاذکار، جز:1، جلد:1، صفحه:257، حديث:2261-

4...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء في من قراء حرفا من القرآن، صفحه:676، حديث:2910-

5...مسلم، کتاب الذکر ودعا، باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن...الخ، صفحه:1039، حديث:2699، ملخصًا-

6...مسلم، کتاب صلاة المسافرين، باب فضل قراءة القران وسورة البقرة، صفحه:290، حديث804-

7...کنز العمال، کتاب الاذکار، الجز الاول، جلد:1، صفحه:258، حديث:2275-

**وضاحت:** پهٔ مونږ باندې د قرآنِ کريم يو حق دے **التَّخَلُّقِ بِأَخْلَاقِهِ،وَالتَّأَدُّبِ بِآدَابِهِ** يعنې پهٔ دې کښې بيان کړے شوي اخلاق او آداب اختيارول-[1] پهٔ قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| **وَ هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ** (پاره:8، سورۂ الانعام :155) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او دا برکت والا کتاب دے کوم چې مونږه نازل کړے دے، **نو تاسو د دې تابعداري وکړئ-** |

پهٔ تفسير صراط الجنان کښې دي: د دې نه معلومه شوه چې د قرآنِ مجيد يو حق دا دے چې د دې مبارک کتاب تابعداري وکړے شي او د دې د احکامو د ماتولو نه ځان بچ کړے شي-[2]

**دريم حق:** د قرآنِ کريم تعظيم کول

**وضاحت:** د قرآنِ کريم دريم حق د زړهٔ نه د دې تعظيم کول دي- د قرآنِ کريم تعظيم کول فرض دي[3] او سپکاوے يې کُفر دے-[4] **د قرآنِ کريم د تعظيم طريقې:** ❁ مثلاً د تلاوت کولو نه پس دا پهٔ صفا سوترا او ښه غِلاف [يعنې رومال وغيره] کښې رانغښتل او پهٔ اوچت ځائے کښې کيښودل ❁ چې خومره درنه کيدے شي نو پهٔ ښه اواز کښې د دې تلاوت وکړئ ❁ چې کله د دې تلاوت کيږي نو پهٔ خاموشۍ او ادب باندې يې واورئ ❁ د دې طرف ته ښپې مهٔ غزوئ ❁ د ديهٔ نه بَره مهٔ کښينئ- سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وفات کيدو نه پس چا پهٔ خوب کښې وليدلو او پوښتنه يې ترينه وکړه: الله پاک ستاسو سره څهٔ معامله وفرمائيله؟ سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه وفرمائيل: يو ځل پهٔ يو ځائے کښې زهٔ ميلمه ووم، کومه کمره چې ما ته راکړے شوه، هلته د ښپو طرف ته پهٔ تاخ کښې قرآنِ کريم ايښودے شوے وو، ما سوچ وکړو چې قرآنِ کريم بهر يوسم، بيا مې خيال وکړو چې زهٔ د خپل ارام د پاره قرآنِ کريم

---

1… جامع العلوم والحكم، صفحه:89، الحديث السابع-
2… تفسير صراط الجنان، پاره:8، سورة الانعام، تحت الآيت:155، جلد:3، صفحه:247-
3… فتاوی شارح بخاری، جلد:1، صفحه:237-
4… کفريه کلمات کے بارے ميں سوال جواب، صفحه:194-

ولې بهر اوباسم؟ بس پۀ دې سوچ باندې ما د قرآنِ کریم تعظیم وکړو او ټوله شپه کښیناستم او هُغه طرف ته مې ښپې نکړې، بس پۀ دې وجه باندې الله پاک زۀ اوبخښلم۔ [1]

## تکرار

نن مونږه د قرآنِ کریم 3 حقونه زده کړل: (1): د قرآن کریم تلاوت کول (2): پۀ قرآن کریم باندې عمل کول (3): د قرآن کریم تعظیم کول۔

## د ښودلو او زده کولو پۀ حلقو کښې يادولو والا دُعا

### په سوزیدلي باندي لوستونکې دُعا

اَذۡهِبِ الۡبَاۡسَ رَبَّ النَّاسِ اِشۡفِ اَنۡتَ الشَّافِیۡ لَا شَافِیَ اِلَّا اَنۡتَ

**ترجمه:** اے د ټولو خلقو رَبه! تکلیف ترې لرې کړې، شِفا ورکړې، هُم تۀ شِفا ورکولو والا يې، ستا نه علاوه څوک هم شِفا ورکولو نشته۔ [2]

## د اجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د ورځنې 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي ؟ (2): آیا پينځۀ واړه نـمونځونه مو د جمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو سُوۡرَةُ الۡمُلۡك ولوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نـمونځ نه پس مو آيةالکرسی، تسبیحِ فاطمه، سُورَةُ الِاخلاص لوستلے؟ (6): آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلې یا اوریدلې؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلي ؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (11): آیا د فضول نظر نه پۀ بچ کیدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آیا 12 منټه مو د

---

[1]... دلیل العارفین، مجلس:5، صفحه:27،28۔

[2]... سنن الکبری للنسائی، جلد:9، صفحه:376، حدیث:10797، مدنی پنج سوره، صفحه:219۔

مکتبة الـمدينه اصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستلې ده؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا د تاسو او د جې پۀ وئيلو سره مو خبرې کړې ؟ (18): آيا پۀ مدرسة الـمدينه بالغان کښې مو سبق وئيلے،يا بل چاته مو ښودلے؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20): آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي ؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي ؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24): آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستلې؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو شته؟ (28): آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31): آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةالليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37): آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو نه دي استعمال کړي ؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀدي وئيلي چې زړۀ مونۀ وي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې ؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې مو بِسْمِ الله وئيلي ؟ (47): آيا چوک درس مو کړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او

پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې ؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې ؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قفلِ مدينه کارکردګي

✿ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ اشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو نه بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اجتماع ته مو خوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خوارې او د چا پۀ وفات کيدو مو لاس نيوه کړې ؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو يوه ورځ روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې ؟ (65): آيا مخکښې راتلونکې او اوس نۀ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړے؟